دَ علم اُصولِ حديث اهم اُصول وضوابط په شعرونو کښې

# تيسير الاصول

(منظوم)



Ketabton.com

تصنيف



مولانا احمدعلی مردانی

یونیورسټی روډ خوره بانډه مردان



(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمٰن الرحيم

دَ حديثو دَ اهم اُصولو بيان په شعرونو كښې

# ګلدسته دَ اُصول حديث

## پښتو منظوم

تصنيف

مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه

علامه محمد يوسف بنوري ټاؤن كراچي

ناشر: اسلامی ادبی تولنه مردان

اشاعتِ اول : دسمبر 2011 ء اشاعتِ دوم : دسمبر 2023ء

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تقریظ

له طرفه د استاذ العلماء والشعراء حضرت مولانا

## محمد ابراهیم فاني (نور الله مرقده)

بسم الله الرحمٰن الرحیم

الحمد لله وحده والسلام علیٰ من لا نبي بعده . اما بعد ! چې څنګه د قرآن کریم د تفسیر د پاره دا خبره ضروري ده . چې مفسر به دَ علم اُصول تفسیر نه خبروي . چې هغې ته علوم القرآن وئیلے شي . چې بغیر د دغې علم د زده کړے نه د قران کریم تفسیر کوُل صحیح نه دي . دغه شان د احادیثو د رسول الله ﷺ د پاره هم علماءِ کرامو څۀ اُصول ، ضوابط او قواعد وضع کړي دي . چې د هغې د زده کړے او د پېژندګلو نه بغیر د علم حدیث تعلیم او تعلم ګران دے . دغه علم ته علم اُصول حدیث یا علم مصطلح الحدیث وئیلے شي . په دې موضوع ډیر کتابونه په مختلفو ژبو کښې راغلي دي او دغه سلسله لاجاري ده . محترم مولانا احمدعلي مرداني صیب د طالب علمانو د اسانتیا د پاره د دغه علم خلاصه د اشعارو په شکل کښې مرتب کړے ده . او په ډیر خوندور انداز ئې هغه تمامې اهمې ضابطے او قاعدے وړاندې کړي دي . امید دے چې شائقین د دغه فن به ترینه ډیره فائده حاصله کړي .

**محمد ابراهیم فاني**

خادم العلم والطلبه بجامعة دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک

۵ محرم الحرام ۱۴۳۳ ه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم

# د کتاب متعلق یو څو خبرے

دقرآن کریم نه پس په شریعت مطهره کښې مرتبه د رسول اللّٰه ﷺ د احادیثو ده . د دغې دزده کړے د پاره مُحدثینو څهٔ اُصول وضع کړی دی چې ورته د احادیثو اُصول (یعنې اُصولِ حدیث یا علم مصطلح الحدیث)وئیلے شي . په علمِ حدیث کښې مهارت پیدا کولو د پاره د دغې اُصولو زده کړه انتهائي ضروری ده . بلکه په احادیثو کښې مهارت او کمال حاصلولو دپاره دا اُصول د بُنیاد حیثیت لري. ما په دې مختصره رساله کښې په منظوم شکل کښې د احادیثو څهٔ اُصول راجمع کړی دی .د اللّٰه کریم د ذات نه اُمید ساتم چې انشاء اللّٰه د مُبتدینو د احادیثو د پاره ډیر مفید وي په اٰخر کښې د اللّٰه تعالیٰ نه دُعا کویم چې دا رساله د اُمت مسلمه د پاره د نفع ذریعه اُوګرځوي .اوزما او زما د مور پلار، اُستاذانو، ملګرو د پاره ئې په اٰخر کښې د نجات سبب او ذریعه اُوګرځوي.

## احمدعلی مردانی

خوره بانډه یونیورسټي روډ مردان

0312-9818511/0321-9818511

دسمبر 2011ء

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمٰن الرحیم



| صفحه | عنوان | شمیر |
|---|---|---|
| 6 | تمهید | 1 |
| 8 | دعلم أصولِ حدیث تعریف | 2 |
| 8 | موضوع | 3 |
| 8 | غرض وغایت | 4 |
| 8 | د حدیث تعریف | 5 |
| 9 | د حدیثوقسمونه | 6 |
| 9 | حدیث متواتر | 7 |
| 9 | خبرواحد | 8 |
| 10 | حدیث مشهور | 9 |
| 10 | حدیث عزیز، غریب | 10 |
| 10 | حدیث مرفوع | 11 |
| 10 | مقطوع ، موقوف | 12 |
| 11 | صحیح لذاته | 13 |
| 12 | حسن لذاته | 14 |
| 12 | غریب | 15 |
| 12 | صحیح لغیره | 16 |
| 12 | حسن لغیره | 17 |
| 13 | موضوع، شاذ | 18 |
| 13 | متروك ، محفوظ | 19 |
| 14 | منکر ، معروف | 20 |
| 14 | مُعلّل، مضطرب | 21 |
| 15 | مَقلوب، مُصحَف | 22 |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| 15 | مدُرج | 23 |
| 16 | مُتّصل، مُسند | 24 |
| 16 | منقطع، معلق | 25 |
| 17 | مُعضَل، مُرسَلْ | 26 |
| 17 | مُدلس | 27 |
| 17 | مُعَنْعَن مُسَلْسَلْ | 28 |
| 18 | د جامع تعریف | 29 |
| 19 | سنن، مسند | 30 |
| 20 | معجم، جزء | 31 |
| 21 | مفرد، غریب، مستخرج | 32 |
| 22 | مستدرك | 33 |
| 22 | مقبول غیر مقبول اخبار | 34 |
| 26 | د صحاح سته بیان | 35 |
| 26 | د صحاح سته مراتب | 36 |
| 27 | مذاهب | 37 |
| 28 | تقسیم دجرح وتعدیل | 38 |
| 28 | د قبولیت اسباب | 39 |
| 28 | اوعدم قبولیت اسباب | 40 |
| 29 | د قبولیت دپاره شرطونه | 41 |
| 30 | متعنت محدثین | 42 |
| 30 | متشدد محدثین | 43 |
| 31 | متعصب محدثین | 44 |
| 31 | د تعارض صورتونه | 45 |
| 32 | خاتمه | 46 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بسم الله الرحمٰن الرحيم

الحمد لله رب العٰلمين والصلوٰة والسلام علىٰ رسوله محمد واٰله واصحابه اجمعين. اما بعد! وما اٰتاكم الرسول فخذوه وما نهٰكم عنه فانتهوا.

## تمهيد

ابتدا شوروزما درب په نوم
چي هرچاته د هغه ذات دے معلوم
نا خبر نۀ دے، خبر دے په ټول حال
ښۀ خبر دے په ماضي او استقبال
د دنيا د هر تعريف دے مستحق
په هرخوا د هر تعريف دے مستحق
راليږلے ئي دنيا ته انبياء دي
بعضي بعضو نه ګرځولے ربّ اعلىٰ دي
سلسله داشوروشوے د آدم نه
تېوس اُوكړه په دنيا هر محترم نه
انتهائي په احمد او محمد ﷺ ده
نور رڼا په دي دنيا د نيك او بد ده
مقتدا د صالحانو محمد ﷺ دے
رهنما د عالمانو محمد ﷺ دے
ټول وجود د محمد رڼا رڼا ده
كۀ عمل د محمد ﷺ دے كۀ وينا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ذات باندې درود زما سلام شهٔ
دا سلام په هغه ذات باندې مُدام شهٔ
مقتدا زمونږ د ټولو صحابهؓ دی
دُوی روان د مصطفیٰ ﷺ په لار کوڅه دی
هریو ستورے د جهان رڼا رڼا دے
هریو ستورے د آسمان رڼا رڼا دے
قدردان یمه تل آل د محمد ﷺ
ورسره دے هر جمال د محمد ﷺ
هریو نور د دوی سره د شریعت دے
هریو دوی نه حق آفتاب د هدایت دے
رڼا ګانے دلته کښې په هر قدم دی
دوی شاهان ټول د عرب او د عجم دی
څوك چې دوی پسے روان دی نو کامیاب دی
لکه نُور سره ملګری د آفتاب دی
هریو قول د پیغمبر ﷺ دلته کښې شته دے
نور رڼا د هریو در دلته کښې شته دے
هغه خلق چې په دوی پسے روان دی
احمد وائی په هرځائے کښې قدردان دی
کهٔ اقوال د محمد ﷺ دی نو حدیث دے
کهٔ احوال د محمد ﷺ دی نو حدیث دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د علم اُصولِ حديث تعريف

دا اُصول حديث دغه دے جمال
خبريدل دی د حديثو په ټول حال
څو مره دلته چې اخبار د محمد ﷺ دی
خبريدل په هر ګفتار د محمد ﷺ دی
دا د علم اُصولِ حديث تعريف دے
بهترين په کښې د هريو شعر رديف دے

## د علم اُصولِ حديث موضوع

په حديث ئې انتها ده هم شروع ده
دا د علم اُصولِ حديث موضوع ده
دا حديث دے په اثر باندې يادېږی
لکه څنګ چې په خبر باندې يادېږی

## د علم اُصولِ حديث غرض وغايت

هر مقبول راته واضحه په دنيا کړی
حق حديث د محمد ﷺ چې راجدا کړی
دا د علم اُصولِ حديث مقصد دے
دغه کار د دغې علم دلته حد دے

## د حديث تعريف

هر ګفتار د محمد يا هريو کار
خاموشی د محمد خير الابرار ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وائی د حدیث سره خبر
کله کله ورته وائی هم اثر
چي اقوال د صحابهؓ، او تابعین وي
یا کارونه، خاموشی ئي په یقین وي
په اثر باندي یادیږي در په در
کله کله ورته وائی هم خبر

### د حدیثونو قسمونه

په دوه (2) قسمه هر حدیث د محمد ﷺ دے
دا یاد شوے د دنیا په هر سر حد دے
یاد دے یو (1) متواتر په هر کتاب کښي
بل خبرِ واحد هیر نهٔ کړے په یو باب کښي
دغي دوه (2) قسمه کښي بند دے هر حدیث
عالیشانه قدرمند دے هر حدیث

### د متواتر حدیث تعریف

په تعداد سره ډیر زیات کهٔ ناقلان وي
دا هر وخت کښي د دنیا په هر دوران وي
چي ئي جمع په دروغو وي ښه ګرانه
دا حدیث متواتر دي مسلمانه!

### د خبر واحد تعریف

کهٔ تعداد د ناقلانو چرته کم وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خبـــرِ واحـــد لپـــه کـــلـــے بـــه قـلـــم وي

## د خبرِ واحد اولني تقسيم

پـه درے قسـمـه هـر حـديـث د پيـغـمبر ﷺ دے
يو (1) مشهور دے بل (2) عزيز (3) غريب خبر دے
د راويـــانـــو د تـــعـــداد کـــهٔ اعتبـــار وي
دا تــقسيـم بــه تــريـنـه جـوړ دلـتــه پـه دار وي

## تعريف دَ حديثِ مشهور، عزيز ، غريب

چـــي د دريـــو نــــه زيــات راويـــان وي د خبـــر
ورتـــــه وائـــي مشهـــور هـــريـــو بشـــر
پـــه تـعـــداد ســـره کــهٔ دوه چــرتـــه راويـان وي
نـوم عـــزيـــز بــــه د حـديـــث دلـتـــه بيـــان وي
کــــهٔ نــــاقـــل وي د حـــديثـــو يـــو بشـــر
پــــه غـــريـــب ســـره يـــاد شـــوے دا خبـــر

## د خبرِ واحد دويم تقسيم

هـــر خبـــر د مُـــنتهـــىٰ پـــه اعتبـــار
دري قســمـــونـــه لـــري هـــر ځـــائـــے پـــه هــردار
يـو (1) مـرفـوع دے بـل (2) مـوقـوف د دي جهـان
دريـم (3) مـقـطـوع دے هـر طـرف تـه ښـهٔ عيان

## د حديثِ مرفوع، موقوف، مقطوع تعريف

پـــه مـرفـــوع کښـي وي ګـفتـار د مـحـمـد ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خـــامـــوشـــي او خــــۀ وي كـــار د مـحـمـد ﷺ
پـــــه مـــوقـــوف كېښـــي وي بيـــان د صـحـــابـيؓ
خـــامـــوشـــي كـــار دغــــه شـــان د صـحـــابـيؓ
پـــــه مـقـطـــوع كېښـــي وي ويـنـــا د تـــابـعـيؒ
خـــامـــوشـــي فــــعـــل ادا د تـــابـعـيؒ

## د خبرِ واحد دريم تقسيم

اعتبـــــار چـــي د صـــفـــاتـــو وي خبـــر كېښـــي
شپاړس ( 16 ) قسـمـــه دي راغـلـي پـــه هـر در كېښي
تـل ( 1 ) صـحـيـح د ذات سـره كړه ، بـل ( 2 ) حسن
(3) ،( 4 ) د دُوي ســـره شـــريك كـــړه پـــــه بـدن
هر ( 5) مـوضـوع ، ( 6 ) مـتـروك سـره كړه ، هم ( 7 ) مـنـكـر
شـــاذ ســـره هـــر مـحـفـوظ پــــه هـــريـــو در
د ( 10 ) مقلوب سره ( 11 ) مدرج يو ځائے تحرير كړۀ
مُـصـحّف او ( 13 ) مُـعَـلّـل لـــه جوړ تـصـويـر كړۀ
(14) مضطرب پسے ( 15 ) معروف دلته شامل كړۀ
هـــر ( 16 ) ضـــعـيف لـــره پيـــدا دلتــــه عـــادل كـــړۀ
دغـــــه شپـــــارس دي قســـمـــونـــــه د خبـــر
هـــر طـــالـــــب دا راتـــلـــے شـــي پــــه نـظـــر

## د حديث صحيح لِذاته تعريف

( 1 ) چـــي راويـــان ئـــي د جهـــان وي عـــادلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



حافظه ئي وي کامله د جهان
متصل ورسره هم راشي سند
معلل او شاذ نه بچ کړي چي خپل قد
دا صحيح لذاته دے د جهان
داسي وائي د حديثو عالمان

### د حديث حسن لذاته تعريف

حافظه کۀ چرته کمه د انسان وي
نور شرطونه د صحيح پکښي عيان وي
ورته وائي هر بشر حَسَنْ په ذات
ورته وائي په هر در حَسَنَ په ذات

### حديث ضعيف

کۀ شرطونه د صحيح نه شي تمام
د حسن نه لاندے راشي په مقام
په ضعيف سره ياديږي دا خبر
کله ګورے احاديث چي په نظر

### صحيح لغيره

د حسن لذاتِه چي ډير اسناد وي
په صحيح لغيره سره به ياد وي

### حسن لغيره

د ضعيف خبر چي ډير شي سندونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حسن لغیره راځي وختونه

## موضوع

چې راوي ئې د دروغ لري اثر
د هرچا ورته دنیا کښې وي نظر
علماء وې په دروغ بانده نیولے
په حدیث کښې دروغ وائي غلے
دا حدیث دے په موضوع سره یاد شوے
په دې نوم سره دا کور دے آباد شوے

## شاذ

چې ثقه د زیات ثقه مخالفت کړي
شاذ به څان سره دنیا کښې روایت کړي

## متروك

که راوي دلته کښې یاد په دروغژن وي
په متروك سره به یاد په هر وطن وي
مخالف وي د اُصولو چې د دین
روایت له قواعد شته بهترین
ورسره ساتي چې دلته څوك عناد
په متروك سره به هرځائے کښې وي یاد

## محفوظ

چې د شاذ مقابله کښې روایت شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په محفوظ سره به ياد په حقيقت شي

## مُنکر

چې ضعيف د ثقه کړي مخالفت

په مُنکر سره يادېږي روايت

## معروف

چې منکر ته مقابل شي په دنيا کښې

په معروف باندې به ياد شي په وينا کښې

## مُعَلل

په خبر کښې که راغلے څه علت وي

نقصان ده هغه حديث له په صحت وي

مُعلل سره يادېږي کور په کور

ورسره شته د حديث قسمونه نور

## مُضطرب

که په متن او سند کښې اختلاف وي

ګران په تا باندې د دغې در انصاف وي

دلته شك وي هرطرف ته په نظر

ښکاره نه وي حقيقت دلته په در

نه ترجيح په کښې ممکن وي نۀ تطبيق

ګرانه ! دلته کښې دوستي ده د رفيق

ورته وائي مضطرب د دې جهان

(c) ketabton.com: The Digital Library


دغــــه پيـــږنــــی دنيـــا کښـــي عـــالــمـــان

## مَقلوب

کـــــۀ تـقـديـم راشـی پـــه متـن او سـنـد کښـي
تـل مـقـلـوب سـره يـاديـږی پـه خپـل حد کښـي
يـــا پـــه هيــره د راوی نــــه څـــۀ بـدل شـــی
پـــه مـقـلـوب سـره بـه يـاد پـه هـر محل شـی

## مُصَحّف

تــلــفــظ ســره غــلـط چـي پـــه جهـــان شـــی
مـصـحف بـه تـريـنـه جـوړ پـه هر مکـان شـی
دا غــلــطـــی بـــه د ســاکـن يـا د حـرکـت وی
ورســــره چـــي بـــدل شـوے حـقيـقــت وی
نـور بـاقــی پـه خپـل صـورت بـه پـه جهـان وی
مـصـحف بـه تـريـنـه جـوړ پـه هـر مکـان وی

## مُدْرَج

کـــــۀ راوی چـرتـه د ځـان نـه څـۀ بيـان کـړي
جـوړ حـديـث بـه تـري مدرج د دي جهـان کـړي

## د خبرواحد څلورم تقسيم

ووۀ قســمـــونــــه د خبـــر دی هـغــــه وخـــت
چـــي راوی نــــه د جهـــان پـــاتـے شـی تـخـت
ذکــر نـــۀ شـــی چـــي راوی پـــه خپـل مـقـام

(c) ketabton.com: The Digital Library



تذکره چې د سند نه شی تمام
دا قسمونه لاندینی ترینه جوړیږی
ناخبره سړے هر ځائے کښې کړیږی
متصل پسے مُسند دے بیا مُرسل
منقطع ، معلق شته دے هم معضل
مُدلس وروستو ووم دے په کتاب کښې
دا قسمونه د خبر دی په دې باب کښې

## مُتّصل

کۀ راغلی د سند پوره راویان وی
مُتّصل سره به یاد په تول جهان وی

## مسند

کۀ سند وی رسیدلے پاك رسول ﷺ ته
دا مُسند دے خیال کوه سند مقبول ته

## منقطع

چې سند کښې انقطاع راشی دنیا کښې
منقطع سره یادیږی په وینا کښې

## مُعَلّق

په شورو کښې راوی یا راویان نۀ وی
معلق کۀ نوم ئې نۀ وی نو به څۀ وی

★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مُعْضَل

کــهٔ د میــنــځ نــه یــو راوي پــه جهــان نــهٔ وي
مــعــضــل دے دغــه شــان کــهٔ راویــان نــهٔ وي

## مُرْسَل

پــــه آخــــر چـــې د خبـــر راوي نـــهٔ ښـــکـــاري
دے مُـرسـل کــهٔ پــه نـظــر راوي نــهٔ ښـکــاري

## مُدَلَّس

هـــرکـــلـــه چـــې راوي پــټ نــوم د اُستـــاد کـــړي
مُـــدلـــس دے چـــې ځــوك دلتــه دا فســاد کــړي

## د خبرواحد پنځم تقسیم

د صیـــغـــو پــــه اعتبـــار ســـره خبـــر
دوه قســمــونــو کښــې بــنــدیــږي پــه هــر در
پـــه دنیـــا کښـــې یـــو یـــادیـــږي مُـعَـنْـعَـنْ
مســـلســـل ســـره بـــل یـــاد دے پـــه بـــدن
پـــه حـدیــث کښـــې چـې عَــنْ عَــنْ د دې جهــان وي
مُـعَـنْـعَــنْ ســره بــه یــاد پــه هــر مــکــان وي
چـــې صیــغـــے وي د ادا پـــه کښـــې یـــو شـــان
مُســـلســـل ورتـــــه تـــول وائـــی عـــالـــمـــان
یـــا حـــالات وي د راویـــانـــو پــــه یـــو رنګ
یـــا صـــفـــات کـــهٔ لـــري یـــوشـــان ځنګ پـــه ځنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وائي مسلسل هريو بشر
کله راشي په دنيا چي دا خبر

## د حديثو د کتابونو اولني تقسيم

احاديث د محمد ﷺ بشۀ په ترتيب دي
حافظان دا احاديثو خوش نصيب دي
مسئلې چي احاديث کښي په ترتيب وي
نهه قسمه به هر چا ته په نصيب وي
کتابونه چي د علم د چينو دي
نهه قسمه په ترتيب د مسئلو دي
کۀ ترتيب د مسئلو يا د تدوين دے
نهه قسمه کښي تقسيم دلته حسين دے
يو ( 1 ) جامع دے بل ( 2 ) سُنن سره ( 3 ) مسند دے
د ( 4 ) معجم سره ملګرے ( 5 ) جزء ( 6 ) مفرد دے
( 7 ) مستدرك او( 8 ) مستخرج سره ( 9 ) غريب شته
کتابونه د حديث په دې ترتيب شته

## جامع

( 1 ) چي تفسير او عقائد سره احکام شي
مناقب، سِيَر، فِتن په کښي تمام شي
علامات او د قيامت چي تذکره وي
ورسره هريو اُوچته مسئله وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جامع سره یادیږي دا کتاب
لکه نمر په شان ځلیږي دا کتاب
علامات د بخاري دي په کتاب کښې
ترمذي دے لوئے کتاب په دغې باب کښې

## سنن

په کتاب کښې چې وي جمع ټول احکام
په ترتیب سره د فقهے وي تمام
نوم سُنن سره یادیږي کور په کور
نسائي مثال لري په هر یو لور
بل مثال ئې د سنن ابو داؤد دے
مونږ سره ابن ماجه کتاب موجود دے

## مسند

چې ترتیب د مرتبے وي ښائسته کړے
کلك نیولے په دنیا وي دهٔ دا پړے
تَقَدُّم یا تَأَخُّر به د اسلام وي
ښهٔ ترتیب سره د هر چا خپل مقام وي
یا دا الیك وي د حرفونو په ترتیب
هر لیکوال د احادیث دے خوش نصیب
ورته وائي کتابونو کښې مسند
کتابونو کښې مشهور دے د احمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل کتاب د دارمي په لوئے مقام دے

هريو حرف ئي رهنما د خاص او عام دے

## معجم

په ترتيب د اُستاذانو احاديث

نقل کړي عالمانو احاديث

داسي ليك شته په عرب او په عجم کښي

په معجم سره ياديږي په عالَم کښي

طبراني ليکلے مونږ لره معجم دے

هريو حرف ئي قيمتي دے محترم دے

## جزء

يو موضوع وي يو عنوان چي په کتاب کښي

احاديث چي کړي راجمع په دې باب کښي

يو عنوان وي د جهان يو مسئله وي

نۀ وي نۀ وي ، بس بيان يو مسئله وي

جزء سره دغه کتاب دلته ياديږي

په دې نوم په هريو باب دلته ياديږي

بخاري دوه کتابونه دي ليکلے

هر کتاب د دغي باب ښائسته ښکلے

په يو جزء کښي مسئلے دي د قراءت

د مولئ دغه کتاب دے لوئے نعمت

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مفرد

کـــــــهٔ راجــــمـــــع روايـــــــات وي د يــــو ذات
دا مـــفـــــرد دے د دنيـــا پـــــه ټــول حـــــالات

## غريب

احــــاديـــث کــــــه ټــول اخبـــار متــفـــرد وي
ديـــو شيـــخ کـــــه هــر ګـــفتـــار متــفـــرد وي
پــــه نــامــه بــانـدې غــريــب دغــه کتــاب دے
خـــونــد مـــزے ســـره جـدا دے لاجـــواب دے

## مستخرج

مستــخــرج کښــې بــاقــي پــاتــے هــر سند وي
بــــهٔ پــوره کــامــل دنيــا کښــې پــه خپـل قـد وي
يــو حــديـــث چــې ذکــر کــړے بـل کتــاب وي
يــو ســنــد ورســره صــرف پــه خپــل بــاب وي
نــورئـــې نـــهٔ وي ســنــدونــه هــغــه دار کښــې
مستـــخـــرج ســره وي ټــول دغـــه ګــفتــار کښــې
هـــــرســـنـــد داحــــاديثـــو دے بــنيـــــاد
لازمـــــی ګــــنـــــړلـــے دلتـــــه هـــر اُستـــــاد
د اَبُـــــو عَـــوَانـــــــه شتـــــه يــــو مُسْتَــخْـــرَج
اے زمــــا جـــانـــانــــه ! شتـــــه يـــو مسـخـــرج

★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مستدرك

مُستدرك کښې وی موجود هغه بیان
چې په شرط د بل کتاب وی د جهان
ذکر شوي هغه پاتې حق خبر
چې په شرط د بل کتاب وی معتبر
دا اخبار به مستدرك کښې په جهان وی
دا ګفتار به مستدرك کښې عالیشان وی
د حاکم مستدرك یاد په هر طرف دے
احادیثو کښې بنیاد په هر طرف دے

## د حدیثو د کتابونو دویم تقسیم

په پنځه قسمه کښې بند دی ټول اخبار
د مقبول سره چې غیر شی په یو لار

## اول قسم

جمع شوی چې اخبار په کښې صحیح وی
د ناقل هریو ګفتار په کښې صحیح وی
کتابونه دغه دلته معتبر دی
عالمان ترینه دنیا کښې ښهٔ خبر دی
لکه څنګه چې صحیح د بخاری دے
دغه فضل په مونږه د رب باری دے
مؤطا د مالك هم صحیح کتاب دے

(c) ketabton.com: The Digital Library


هـریـو تـه کـېـ ئـې حسیـن دے لاجـواب دے
لـوئـے مـقـام لـری صـحـیـح ابـن حبـان
د حـاکـم د صـحـیـح دلتـه دے لـوئـے شـان
د صـحـیـح ابـن خـزیـمـه خپـل مـقـام دے
نُـور صـحـیـح ابـن عـوانـه د مـابـنـام دے
د صـحـیـح ابـن سـکـن نـه تـول خبـر دی
احـادیـث ئـې نـقـل کـړی مـعـتبـر دی

دوئم قسم

پـه کتـاب کښې چې صـحیح ، ضعیف ، حسن وی
هـر ضـعیف د حَسَـنُ ځـائـے کښـې پـه بدل وی
مـعـتبـر دغـه کتـاب پـه هـر مـقـام دے
دا دلیـل پـه دې جهـان د خـاص او عـام دے
یـو کتـاب دے د سُـنـن ابـوداؤد
لـوئـے کـرم دے پـه مـونـږ فـضـل د مـعبـود
تـرمـذی شتـه دے کتـاب هـم مـعـتبـر
نسـائـی کښـې دے هـر بـاب هـم مـعـتبـر
د احـمـد مسـنـد جُـدا الـری مـقـام
مـعـتبـر دې کتـاب دے هـر کـلام

دریم قسم

چې صـحیـح ، ضـعیف ، مـنـکـر سره شی جمع

(c) ketabton.com: The Digital Library



مؤلف په دي داجر ساتي طمع

روايات دي معتبر په کښي صحيح

قدردان دے هر خبر په کښي صحيح

د منکر نه لرے لرے ساته ځان

کتابونه شته دے ډیر په دي جهان

يو دابن ماجه دلته کښي سنن دے

چي مکتوب د هر منکر او د حسن دے

د مُسند عبدالرزاق هم دا صفت دے

د مُسند ابن جرير دا حقيقت دے

دغه طرز د بَزّار دے د مُسند

بل زيادات په دغي لار دے د احمد

درنه هير نشي تفسير ابن جرير

دغه رنګ په دغه شان دے دا تحرير

يو مسند هم د سعيد ابن منصور دے

هر صحيح حديث زمونږ د پاره نُور دے

طبراني ليکلے دے معجم کبير

ورسره د طبراني معجم صغير

د مُعجم اوسط نه ځان ساته خبر

په سنن دارقطني ساته نظر

غرائب نومي کتاب شته په دي باب کښي

(c) ketabton.com: The Digital Library


نور تفصیل ورله اُوګوره لوئے کتاب کښې

## څلورم قسم

په دنیا ضعیف چې څومره دی اخبار
کتابونو کښې چې دی په دغې دار
په مقبول کښې به شمیر نه شی په جهان
د ضعیف سره یو ځائے چې وی روان
شته دے شته دے ډیر اخبار دلته ضعیف
کتابونه شته بیشمار دلته ضعیف
یو دے مسند الفردوس په دغې لار
یو انسان به تر ینه اُونکړی انکار
بل کتاب الضعفاء د عقیلی دے
یو کتاب هم د خطیبِ بغدادی دے
په تاریخ بغدادی سره یادیږی
هر کله چې د تاریخ صفحے لټیږی
شته تاریخ الخلفاء په نوم کتاب
د ابن عدی کامل دے د دې باب
یو کتاب شته د نوادر الاصول
نشته نشته احادیث په کښې مقبول

## پنځم قسم

پنځم هغه کتابونه په جهان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



حدیثونه چې موضوع په کښې عیان دي
دابن جوزي کتاب دے موضوعات
پیجندے شي دلته کښې د موضوع ذات
د طاهر نهرواني شته یو کتاب
موضوعات کښې معتبر دے په هر باب

## د صحاحِ ستّه بیان

شپږ په شمیر دي کتابونه د صِحَاح
خوشبودار دي تول ګلونه د صِحاح
بخاري، مسلم سره ترمذي بل کړه
نسائی ، ابوداؤد ورسره خپل کړه
ورسره ابن ماجه دے بل کتاب
دا شپږم کتاب دے دلته په دې باب
وائی بعض چې مؤطا شپږم کتاب دے
د مالك د غه کتاب ډیر لاجواب دے
بعض شمیر کړے دے مسند د دارمی
شته صحیح دے معتمد د دارمی

## د صحاحِ ستّه مراتب

بخاري په مرتبه کښې دے اول
مسلم وروستو وریسے دے په منزل
دریم سنن ابوداؤد دے بل کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



نسائی ورپسې بل دے لاجواب
ورپسې د ترمذي پنځم نمبر دے
بیا شپږم ابن ماجه دے معتبر دے

## د اصحابِ صحاحِ ستّه مذاهب

بخاريؒ لوئے مجتهد او لوئے امام دے
د صحیح ئې په دنیا کښې لوئے مقام دے
بخاريؒ په اولیاؤ کښې ولی دے
ځنې وائی په مسلك دے شافعی دے
د مسلم مقام دے پس له بخاری نه
تپوس اوکړه په دنیا د هر ولی نه
ځنی وائی شافعی د دهٔ مسلك دے
رڼا دهٔ سره دا زمکه او فلك دے
مجتهد ورته ډیر وائی په جهان
د امامِ مسلم دغه دے لوئے شان
حنبلی ابوداؤد دے په مذهب کښې
شافعيؒ ئې یادوي ډیر په عرب کښې
ترمذيؒ، ابن ماجهؒ لوئے امامان دي
دوي په لار د شافعيؒ پوره روان دي
دا مذهب د دغې لویو علماء دے
هریو مونږ له محترم په دې دنیا دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تقسیم د جرح و تعدیل

تـہـول د جـرحـے دوه قسـمـونـه پـه دنیـا دي
لـکـه خـنـګ چـې د تـعـدیـل سـره ادا دي
چـې د جـرحـے او تـعـدیـل مـوجـود سبـب وي
دا بـه جـرحـه مـفسَّـره د مـذهـب وي
دا تـعـدیـل بـه مُـفسـر هـم د دنیـا وي
چـې سبـب د عـدالـت پـه کـبنـي ادا وي
چـې سبـب د جـرحـے نـهٔ لـري دنیـا کـبنـي
دا بـه جـرحـه وي مبهـمـه پـه ویـنـا کـبنـي
چـې سبـب د عـدالـت نـه شـي بیـان
پـه مبهـم تـعـدیـل یـادیـږي پـه جهـان

## د جرح او د تعدیل د قبولیت
## او د نهٔ قبولیت اسباب

کـه تـعـدیـل وي یـا وي جـرحـه مُـفسـره
د تـعـدیـل سـره ده جـرحـه مـعتبـره
کـهٔ وي جـرحـه پـه دنیـا دلـتـه مبهـمـه
نـهٔ ده نـهٔ ده دغـه جـرحـه مـحتـرمـه
د دي جـرحـے نشـتـه نشـتـه اعتبـار
هـرعـالـم دانـا کـوي تـریـنـه انـکـار
کـهٔ تـعـدیـل چـرتـه مبهـم د دي جهـان وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



معتبر به د تعدیل دغه بیان وي

ځني وائي معتبر نه دے تعدیل

چې تر څو ورسره نۀ وي تول تفصیل

## د جرحے او تعدیل د قبولیت
## د پاره شرطونه

څوك چې غواړي په دنیا دلته کښې جرح

غواړي دلته چې په چا دلته کښې جرح

یا د عدل ګواهي ورکوُل غواړي

یا د دې فکر د پاره دلته ژاړي

ورله دلته ضروري دي څۀ شرطونه

لازمي دي دۀ پاره دا کارونه

یو (1) د جرحے په اسبابو بنۀ خبر وي

په تعدیل کښې ئي اسبابو ته نظر وي

بنۀ د علم وي خاوند دغه انسان

د دروغو نه وي لرے په جهان

پرهیزګاره متقي دغه بشر وي

اعتدال سره په لاره برابر وي

تعصب نۀ لري زړۀ کښې دا انسان

بنۀ سُوچه وي په دنیا کښې مسلمان

د مقبول جرحے دپاره دي شرطونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لازمـــی دی هـــر بشـــر لـــه دا کـــارونـــه
دا شـــرطـــونـــه پـــه تـعـدیـل کښـي هـم لازم دی
لـکـــه څنګ چي تول پـه جرحـه کښي قائم دی

## مُتعنت محدثين

څـــنـــی شتـــه متـــعـــنـــت مـــحـــدثیـــن
نـــقـــل کـــړی عـــالـــمـــانـــو صـــالـــحیـــن
یـــو ابـــن جـــوزی پـــه نـــوم ســـره یـــادیـــږی
بـــل عـــمـــرو بـــن بـــدر دے بیـــانیـــږی
دغـــه دوراه مثـــالـــونـــه ســـاتـــه یـــاد
عـــمـــارت د مثـــالـــونـــو کـــړه آبـــاد

## په جرحه کښي څنی مُتشدده محدثين

چـــي څـــوك ووځـــی کـــلـــه جـــرحـــه کښـــي د حده
ورتـــه وائـــی مـــحـــدث متشـــدده
لانـــدي ذکـــر عـــالـــمـــان متشـــدد دی
دوی وتـــلـــے پـــه دنیـــا کښـــي د خپـــل حـــد دی
نســـائـــی ســـره یـــحـــیٰ بـــن مـــعیـــن دے
بـــل ابـــو حـــاتـــم د دوی ســـره قـــریـــن دے
د یـــحـــیٰ قـــطـــان ســـره ابـــن قـــطـــان دے
پـــه دي ډلـــه کښـــي شـــامـــل ابـــن حبـــان دے
دا یـــو څـــو دی مثـــالـــونـــه پـــه دي بـــاب کښـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library


نـورليـدے شــی مثــالـونــه غـټ کتـاب کښـي

په جرحَ کښي ځني متعصبه محدثين

بـــعــضـــي شتــــه مُتــعــصــب مُــحــدثيـــن

چــي دوي دي پــــه تــعــصـــب بـــانـدي مـئيـن

دار قُــــطـــنــــی دے مـــحـــدث د دغـــي دار

بـــل خـــطيـــب بـــغـــدادي دے پـــــه دي لار

شتـــه دے ډيـــر پـــه دغـي بـاب کښـي مثـالـونــه

ورلــــه ګــوره نــور کتــاب کښــي مثـــالـونـــه

په جرحَ کښي د تعارض صورتونه

تـول څلور ( 4 ) صـورتــه شتــه دے پــه جهـان

چــي تـعـديـل او جـــرحـــه جـوړ شـی دښمـنـان

( 1 ) مُبهــم جــرحـــه او تــعـديـل چيِ شی مُبهـم

پـــه دي وخـــت کښـــي مـعتبـــر دے تـعـديل سَم

( 2 ) کــهٔ تـعـديـل وی مـفسـر ، جـرحـه مبهـمـه

اعتبـــار د جـــرحـــے نشتـــــه ، ده تـــورتــمـــه

( 3 ) کـــهٔ وی جـــرحـــه مـفسـر ، مبهـم تـعـديل

مـــعتبــــره ده دا جــــــرحــــــه د تـــفـــصيـــل

( 4 ) کـــهٔ تـعـديـل ســره شـــی جـرحــه مُفسـره

پـــه دي ځـائــے کښــي شـمير کړه جرحـه معتبره

★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خاتمه

لازمــــی دالــلّــــه نــوم دے انتهـــا کښـــي
لــکــــه څـــنګ چـــي دے لازم پـــه ابتـــدا کښـــي
د الــلّــــــه د دغـــــي نـــوم پـــــه بـــرکـــت
هــــرطــــرف تـــــه دے ښـــور شـــوے هــدایـــت
هـــریـــو کـــور کښـــي رڼـــا ګـــانـــے د اســلام دی
رڼـــا ګـــانـــے هـــرطـــرف تـــه ګـــام پـــه ګـــام دی
دا کتـــاب شـــولـــو تـــمـــام پـــه ښـــهٔ صـــورت
پـــوره شـــولـــو تـــول کـــلام پـــه ښـــهٔ صـــورت
پـــه آخـــرکښـــي پـــه نبـــی ﷺ بـــانـــدې درود
چـــي مـــحبـــوب دے پـــه جهـــان کښـــي د ودود
ورســـــره زهٔ ســـــلام وایـــم پـــــه نبـــــی ﷺ
مـــقتـــــدا دے د دنیـــــا د هـــــرولـــــی
پـــه اصـــحـــابـــو د نبـــی ﷺ دې وی ســـلام
دا ســـلام دے ســـحـــر ســـره مـــاښـــام
ورســـره دے ســـلامـــونـــه وی پـــه آل
رَبّ ورکـــړے لـــوئـــے مـــقـــام حُســـن وجـــمـــال
کـــړهٔ قبـــول دغـــه عـــمـــل مـــي د جهـــان
لاس نیـــولـــے احـــمـــد غـــواړي د مـــردان

تمت بحمد الله تعالیٰ وبتوفیقه ربنا تقبل منا انك انت السمیع العلیم وتب علینا انك انت التواب الرحیم وصلی الله تعالیٰ علیٰ خیر خلقه محمد واٰله واصحابه واهل بیته اجمعین

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**